مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت

۲۰۲۳/۰۸/۱۷

# په فضا کې راروانې هـوا ګانې

فـضـا کـې را روانـې هـوا ګانـې زنډیـدلـې
لـه ځـانــه ویـریـدلـې مرغـۍ ټـولـې رالویدلې

پاک رب انسان د یون او پوهاوي له پاره ژمن کړ
واکدار کـه دنده هیـره کـړي، الله«ج»وي پرزولي

د علم روښـنـایـي خو حال کې نـوي سـاه پوکړي
د پـوهـې په ځـلا کې رونېتیا زړونه هڅولي

ځوان نسل پرمختګ ته ښوونځي او ویوهنځي دی
ټولنې بسیاینې ته په لوي لاس دي بللي

هیواد کې هر بنسټ د دوي په شتون کې وده کاندي
پـر نــر او ښـځـه دواړو دغـه لارې لورولي

ولس پال واکدار د ګردو پرګنو رضایت غواړي
نـه دا چـې د خوښـۍ سـاه وې مـرۍ کـې یې مروړلي

عام خلک نن سبا په وړي نس د بسمل ژوند کړی
مـلا،طـالــب دویم دریم واده دي هــوسـولـي

چې علـم یې کمزوری وي ترې واګې پردی اخلـي
د خیال پر وزر سپور شي، هم دې لوړو پـرزولي

تنکی جینکۍ ژاړي ښوونځي کې زده کړه غواړي
د زړونـو مــاتــول خو ظـالــمـان دي نـړولــي

زورواکـي داسـې انګیري چې پاتې به په زور وي
مـزل یې ګـوره لـنډ وي د تاریخ اینې ښوولي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ